**NHS**
**Bristol**
***South Gloucestershire***

# Understanding Tuberculosis (TB)

# د نري رنځ ( TB) پحقله پوهه

Information for people coming to live in the UK

**په UK کې اوسیدو له راتلونکي خلکو دپاره معلومات**

که چیرې تاسو د ټي بي پحقله اندیښمن یئ نو تاسو NHS ډایریکټ ته په 0845 4647 باندې هم ټیلیفون کولې شئ.- هغوي تاسو ته ترجمه کړې شوي مشورې وړاندې کولې شي.

که چیرې ستاسو دا معلومات په بله ژبه کې پکار ي، یا په بل یو فارمیټ کې لکه برایل، اډیو ټیپ، غټ پرنټ یا په ډسک کې نو مهربانۍ سره دي هیون ( The Haven ) سره په 0117 9703887 یا په اي میل [the.haven @ nhs.net](mailto:the.haven@nhs.net) باندې اړیکه اوکړئ

دا په مختلفو ژبو کې هم ترلاسه کیدای شي:
[www.avon.nhs.uk/haven](http://www.avon.nhs.uk/haven)

دا پاڼره د هیون هیلت اسیسمنټ سروس له اړخه د ایون هیلت پروټیکشن یونټ سره په یو ځای جوړه کړې شوې ده

اخري اپ ډیټ مارچ 2008

**انګریزي** / Pashto

## BCG ویکسین کله نه دې ورکول پکار؟


تاسو له BCG ویکسین نه دي پکار
که چیرې تاسو ته:

- مخکې ټي بي شوې و
- په تیر شوي درې (۳) میاشتو کې د مینټوکس (Mantoux) مثبت ټیسټ شوې ي
- درته د مخکې نه BCG شوي ي او د BCG یو ښکاره داغ ي او یا
- د تیر شوي BCG ویکسینو کاغذي ریکاټ لرئ
- په تیر شوي څلورو (٤) هفتو کي مو بل ویکسین اخیستي ي
- یو خطرناکه ناروغي لرئ لکه کینسر
- د څرمنې حالت مو وروست ي
- ډیره زیاته تبه کې

یا که چیرې تاسو:

- تاسو د سټیرایډ (Steroid) دارو اخلئ
- بلارب توب
- مثبت HIV.

که چیرې تاسو یقینې نه یئ چې تاسو ته HIV/AIDS دې او که نه نو د HIV ټیسټ انتظام کیدای شي.



## BCG ویکسین څرنګې ورکولې کیږي؟

BCG د انجکشن په ذریعه په مټ کې ورکولې کیږي
دا یو وړوکي دانه جوړوي،
کوم چې په یو څو ګنټو (ساعتو) کې غایب شي

## ورپسې بیا څه کیږي؟

د ۲ نه تر ٦ هفتو کې دننه به د ویکسین په ځاي یو پړسوب جوړ شي او په دغه ځاي کې د څو ورځو پورې درد کیدای شي. دغه پړسوب به یو سپین داغ یا السر ته بدل شي، او مایعه تې څڅیدې شي او بیا تې یو داغ جوړ شي. په پوره توګه خه کیدو کې به دا د شپږو (٦) میاشتو پورې وخت اخلي او یو وړوکي اوار داغ به پریږدي.

دا ضروري ده چې دغه داغ یا جوړ شوې زخم ګرول یا زورول نه دي پکار او دا دې په هوا کې ښکاره وساتلې شي، بربنډ او بې له د څه پلاستره. که چیرې د ویکسین د دغه ځاي نه مایعه و څاڅي نو دا د غسل یا لمبلو په وخت په واټر پروف پټئ پټول پکار دي. په دغه ځای کریم یا پرفیوم مه استعمالوئ.

د BCG ویکسین ورکولو نه پس، په دغه مټ کې د درې (۳) میاشتو پورې بل هیڅ ویکسین نه دي ورکول پکار

## نرۍ رنځ (ټي بي) څه شي دي؟
ټي بي يو مهلکه ناروغتيا ده کوم چې عموماً په پيپړو اثر کوي خو ورسره د وجود په نورو برخو هم اثر کولې شي. ټي بي په ټوله نړۍ کې په ډيرو خلکو باندې اثر کوي



## د ټي بي څه علامات دي؟
د ټي بي ډير عمومي علامات دا دي:
- د درې هفتو نه زيات ټوخي
- تبه
- په شپه کې خوله کيدل
- په ټوخي کې وينه غورځول
- د اشتها کميدنه
- د وزن کميدنه
- کمزورتيا يا ستړې محسوس کول.

## تاسو ته ټي بي څرنګې کيداى شي؟
کله چې هر څوک چې ورته د پيپړو ټي بي ي ټوخي اوکړي، ټوکانړې يا پرنجيدل اوکړي، نو د ټي بي جراثيم په هوا کې شامل شي. هغه نور خلک کوم چې په دې جراثيم کې سا واخلي نو ورته ټي بي کيداى شي.

تاالسو ته ټي بي په دوه (۲) مختلفو لارو کيداى شي. يوې لارې ته ايکټيو ټي بي (Active TB) ويللې کيږي او دويمې لارې ته ليټنټ ټي بي (Latent TB) ويللې کيږي. په ايکټيو ټي بي کې علامې ښکاره شي او خلک ډير زيات ناروغه کيداى شي.

د ليټنټ ټي بي مطلب دا دې چې جراثيم ستاسو په وجود کې "خوبولي" پراته ي. ليټنټ ټي بي د ډيرې اوګدې مودې پورې بې له د څه علامو کيداى شي، تر دې چې ده کالونو پورې. تاسو ناروغه نه محسوس کوئې او ساري نه يئ. خو که بيا هم، ستاسو علاج او نه کړې شي، نو ځنې وخت د ليټنټ ټي بي دپاره دا ممکنه ده چې ايکټيو ټي بي ته بدل شي او بيا تاسو ډير ناروغه کيداى شئ.

## ولې چا ته د ټي بي خصوصي خطر کيداى شي؟
هر چا ته ټي بي کيداى شي، خو دا خطر ډير زيات ي که چيرې تاسو د داسې نفر سره په تماس کې يئ څوک چې ايکټيو ټي بي لري.او دا هغه خلکو ته ډير زيات کيداى شي کوم چې د مخکې نه د ناروغئ خلاف کمزورتيا لري.



## د ټي بي علاج شته؟
په ډير حالاتو کې د ټي بي علاج کيداى شي، په خصوصي توګه که چيرې علاج د سر نه اوکړې شي او د ټي بي د دارو درمل پوره کورس اوکړې شي. دا عموماً د ٦ نه ٩ مياشتو پورې اخلي.

دارو درمل هم هغه شان خوړل پکار دي څرنګه چې هغه تاسو ته ښوولي شوي ي او پوره کورس دې مکمل کړې شي. خير دې که تاسو خه محسوس کوئ، دا ضروري ده چې تاسو دارو درمل خورئ تر څو پورې چې تاسو ته د بس کولو دپاره ويللي شي.

ټي بي ستاسو علاج ته مخ نيوې کولې شي که چيرې دارو درمل په غلطه توګه او خوړلې شي يا د مخکې نه بس کړې شي نو بيا دغه ناروغتيا ډيره ګرانه کيداى شي يا علاج ي ناممکنه کيداى شي.

د ټي بي د مخ نيوې خه لاره د مخکې نه او په پوره توګه علاج کول دي.

## ولې د ټي بي په ويکسين ورکولو باندې مخ نيوې کيداى شي؟
هميشه نا.BCG ويکسين ورکول د څه حد پورې حفاظت ورکولې شي خو دا هميشه ۱۰۰ % نه ي او ستاسو د لوېدو سره سره په دې کې کمي راځي. د فکر له مخې BCG ويکسين د پيدائش سره ورکول پکار ي.BCG ويکسين ځنې وخت لوې ماشومانو ته او ځوانانو ته هم ورکولې کيږي.

## ما ته څرنګه معلومېږي شي چې ما ته ټي بي دي؟
د سينې ايکسرې په عمومي توګه د پيپړو ايکټيو ټي بي ښکاره کوي.

د څرمنې يو ساده ټيسټ چې ورته مينټوکس ټيسټ (Mantoux test) ويللې کيږي په دې معلومولو کې مرسته کوي چې تاسو ته ليټنټ ټي بي دي يا د وجود په بله برخه کې مو ټي بي دي. د ټيسټ د پاره د مايعې يو لږ مقدار ستاسو د مټ د څرمنې دلاندې انجکشن کړې شي. ۴۸ نه تر ۷۲ ګنټې (ساعته) پس يوه نرس د دغه ځاى ازموينه کوي.

که چيرې د څرمنې ټيسټ مثبت ي، نو په دغه ځاى به پړسوب ي يا په ممکنه توګه به دانه ي. د دې مطلب دا دې چې تاسو ته د مخکې نه د ټي بي جراثيم ملاو شوي دي. تاسو ته ليټنټ يا ايکټيو ټي بي (Latent يا Active TB) کيداى شي او تاسو له به نور ټيسټونه او د دې دپاره ممکنه علاج پکار ي.

که چيرې د څرمنې ټيسټ منفي ي نو د انجکشن په ځاى باندې به هيڅ نه يا لږ شان اثر شوي ي. او بيا به نرس تاسو ته اووايي چې تاسو ته د ملي BCG ويکسينو پاليسئ مطابق دBCG ويکسينو ضرورت شتي او کنه.

## BCG ويکسين چا ته پکار دي؟
د **۱٦** کالو نه کم عمر خلک کوم چې
- د هغه ملک نه راشي کوم ځاى چې ټي بي عام ي.

د **۱٦** نه تر **۳۵** کالو پورې هغه خلکو ته د BCG ضرورت **کيداى** شي:
- که چيرې هغوي د هغه ملک نه راشي کوم ځاى چې ټي بي ډير عام ي.

که چيرې تاسو ته يا ستاسو ماشوم ته د مخکې نه د BCG ويکسين ورکړې شوي ي نو تاسو ته د بيا ورکولو ضرورت نشته